انجنیر شیر ساپی ۲۰۱۲/۰۴/۱۹

# د میونشن پرمشاعرې یوه کره کتنه

د نارنج سپین گل مست معطرطراوت د پسرلی موسم پیلامه ده، چې هر باحساسه او روڼ اندی را ویښوي او تحرک ته یې اړباسي. دغه دودیزه میله نږدې نیمه پیړۍ عمر لري، دهغه فرهنگی فعالیت یو جزء دی چې په ننگرهارکې دهر کال د پسرلي په پیل کې د مشاعرې په بڼه ترسره کیږي.

اوس دغه لړۍ په نورو گلانو هم لکه انارگل، سنځلگل، منې گل، بادامگل، ارغوانگل وریدیگل .....

دفرهنگپالوفعالینو لخوا په دغه نومونو پالل کیږي.

اروپا، د نارنج د مشاعرې چاپیریال د کلتور په بڼه نلري، دنارنجگل عنعني نمانځنه په اروپا کې له ډیرې مودې راهیسي دیوسمبولک حرکت په توگه اکثراً دالمان په میونشن کې د منفرد اشخاصو په لاس کې وه، په خاص ډول دمیونشن میشتو د زرهاو تنو افغانانو په پسوا کې له دوو کلونو راپدیخوا دصدیق الله فدایيد ویناوو په تمځی کې، نمانځل کیږي.

د همدې میاشتې په شپږمه نیټه یو ځل بیا د نارنج گل د مشاعرې خپلاسي ننداره وه.

په دغه دودیزه میله کې نیمایي بیرونی افغان میلمانه وو د مونشن د افغانانو سهم په صفرکې ضرب و. په مونشن کې دافغانانو دغه وضع اوحالت څنگه ارزیابي کوي؟

**دوضع تحلیل:**

دغه وضعیت او شاوخوا چارپیردریځ پدې اړه لری چې د وضعی خوځښت او لوری معلوم وی، د وضع چلند او سلوک په لار کی دعقیدوي ایمان دریز په برکت دگډکارکولو بریالیتوب دافغانانو لوربنود شو، د اسلام مبارک دین رسوخ دمونشن مهاجرو دیولاس کولو عامل او موجب وگرځید.

نو، په دې دلیل، د وضع اتکل ښئي چه په میونشن ښارکي شل کاله پخوا د صدیق الله فدایی ( مولانا مصطفی) په امامت داسلامی اخوت پربنیاد ډله ایزه مذهبی اراده منځته راغله، که څه هم زمونږافغانی او اسلامی کلتور زمونږ ملی هویت تشخیصوی خو له نړیوال مدنیت سره دپراخو اړیکو په درلودلو، دخپل اجتماعی اصالت او ولسنښي او دفرهنگی هڅو پښتني ممیزات د تعمیم او تعمیق ته ژمن او متعهد کسان په مجموع کې کمزوري دي.

مولانا فدایي په یوه مذهبی کورنۍ کې لوی شوی او په ځوانی کې اروپا ته راغلی او د اسلامی نهضت (جمعیت اسلامی) یو فعال غړی پاتی شویدي.

امام فدایي یو حلیم، زړه سواند، کمینه، هڅاند او متمدنه ملا دي.

کله چې د مالي مرستو مسئله رامنځته شوه، مولانا یې له ریاست څخه لری کړ او دبل امام د پیدا کیدو په وجه جومات تړې نه ولاړ؛ دخلکو ملاتړ او مادی منفعت یې له لاسه ووت.

مولانا په ځانگړی توگه دلته هلته خپله میراثي ملایي کوله.

دمونشن اسلامی مرکز دافغانانو شخصي ملکیت دي، دغه مرکزله ډیروکلونو را پدیخوا په قومي او ژبه نیز تعصب ولاړې ډلي په انحصار کې پاتی شو، ترڅوچي ملاامام سیدحبیب صباړپه اخلاقی فساد دیوې افتضاح ښکارشو، دغه مرکز اوس دځوانانو په لاس د رغیدو په حال کې دي.

دوه کاله پخوا کله چې افغانانو دبل جومات دجوړولو نیت وښود، مولانا یې دنوی مسجد ملا امام کړ، ده یوه ناکاره، فرمانبرداره او انحصاری حلقه په ځان راتاوه کړه او دی هم پخپل هوډ او ژمنه ونه دریږد.

د افغانانوهلی ځلی او ټولي هیلي په اوبوکې لاهوکړي.

په نتیجه کې د همدې حلقی لخوا په ډراماتیکه توگه ډیر ژر د مسجد د واک له گدۍ لرې شو.

اوس دنوی جومات (میروس نیکه جومات) محراب تش، دجومات دننوتلو لار دمراجعینو پرمخ تړل شوی، یواځی دجمعی په ورځ کولپ و کونجی (کیلي) یو بل ته نږدی کیږي.

دمیروس نیکه جومات د رهبرې ډله په ناسالمه سیالي کې لاسوگریوان دي.

بعضی همدا بی بندوباره اشخاص دکاذب شهرت او امتیاز په لټه کې دځان په کټه د ټولني په نامه جعلي اعلامیې خپروي !

مولانا لاپخوا بله ځاله دمسجد په څنگ کی دمکتب په بڼه جوړه کړیوه. چې اوس د جناب مولانا دویناوو تالاردي؟!

مولانا(فدایی) چې دځانځاني په رنځ اخته دی لدې امله په مونشن کې منزوی او یواځی پاتی شو.

مولانا پخپل ځان مین دی، نه په اسلام، افغان او دالر؟!

لدیکبله افغانان د مولانا څخه خپه، خوابدی او په قهار دي.

مولانا په هکله برداشت دادی: مولانا ښه سړی دی دهرچا خبره اوری ولي دهیچا خبرې، هاند او هڅې نه منې!!!

کلتوری ټولنه چې دافغانانو د ملی وحدت ښکارندویه وي په تحسر او تاسف نشته!



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

تجربې ښودلې ده د **وړتيا** هغه معيارونه چې دسنجش وړندی: چټياتو، دومخی او فرصت طلبی ته ډګرخالی کوی، چې دهغو څخه ډيری منفی تجربی لرو.
خو ريښتينی وړتيا وړهغه کسان دی چې پرطرحه شوو اصولو باندی باور ولری اود عملی کيدولپاره يې فعاليت کوي، ټاکلی استعداد او اخلاقی ښيګڼی ولري.
**اعتماد** او پرځان باورلرل د ګډکار له پاره اساسی شرط دی او دغه اهليت په هيڅ وجه دمشترک هدف نه، کم ارزښت نلري.
عاطفی او عقلانی اعتماد:
اعتماد دعاطفی اړيکوپه څېر داعتمادکوونکی اواعتمادکيدونکی ترمنځ يوډول علايق رامنځته کوی چې اعتماد، داعتمادکوونکی حق او داعتمادکيدونکی دنده کيږي. ددغه بهير محصول بشپړ منل او اطاعت دي.
په واقعيت کی داهماغه دخودسرو او بې مسؤليتو رهبرانو د روزنې ساحه ده .
اما دمتقابلو اړيکوپربنسټ او ټاکلو اصولو په چوکات کی اعتماد، داعتماد کوونکی او اعتماد کيدونکی ترمنځ يوډول عقلانی اړيکی دي چې په واقعيت کی دواړه خواوی په اعتمادکوونکی تبديليږي. پدې مانا (معنی) ؛ اعتماد دافرادوترمنځ دعاطفی اړيکو غوښتنه نه ده ؛ بلکې د افرادو اړيکې داصولو او اهدافو سره دهغو ترمنځ په اړيکو کې څرګندېږي.
دلته عقلانيت د اعتماد بنسټ ګرځی؛ دا هماغه اعتماد دی چې مونږ په خپلو کارونوکې ورته اړتيا لرو؛ اعتماد په روښانه او ښکاره چاپېريال کې؛ دا داعتماد شرط، تضمين او بنسټ دي؛
اعتماد په موعظ، غوښتنه، پروتوکول او قسم سره نه تامينيږي.

**دميونشن ښار دنارجګل مشاعرې کمی او کيفی ارزونه:**
**الف ـ کمی کمزورتياوی**
دکميت غټه برخه درانه او نامتو ميلمانه و، ددغه کميت درې څنډې:
لومړی ګروپ: له پراګ نه راغلی تيم د آزادی راډيو دپښتو څانګی ژورناليستيکه ډله وه.
د دغې ډلې وړتيا مسلمه ده، داعتراض نه پاک دی اودسپيناوی حاجت يې نلرو!
دمشاعرې دجوړيدو بندوبست مخکی له مخه يا دټولو مخکی له دې ګروپ سره روښانه اړوند لري.
دويم ګروپ: دآلمان له نورو ښارو رارسيدلی افغانان لکه استاد عبدالوهاب سرتير، ښاغلی اسدالله زمری، داکتر اکرم ملکزی، آغلې سهيلا حسرت، ښاغلی عمر پاڅون او سيدکريم سعيدی چې له اوکراينه راغلی و.
ښاغلی اسدالله زمری، عمرپاڅون او سيدکريم سعيدی چې دکورنی غړی يې مونشن کی اوسيږي، دا ړومبی وار وو چه دلته دمشاعری په تمځی کی وليدل شول.
دريم ګروپ : دمونشن افغانان په لاندې کتګوری وېشو :
الف ـ بې غرضه ناظر کسان يوڅو تنه و.
ب ـ دجمعيت اسلامی دوه پښتانه ورونه چې دمولانا فکری انډوالان دي.
ج ـ د کوزې پښتونخوا يوتعداد پښتانه ځوانان، له دغو ځوانانو سره پيژندګلوی نلرو، د«شينوارو لونګينې» د سندری ويونکی ښاغلی علم خان په لمړی وار راڅرګند شو.
دمشاعرې ترکيب ښيي چه دمونشن دخلکو ګډون کم رنګه وه څه نا څه نيمايي ځوانان و. د بيرونی ميلمنو او د کوربه مهاجرو ترمنځ په کيفی لحاظ غټ توپيرموجود و.
يوی موضوع ته اشاره، په دې باره کې د ميلمنو په وړاندی سپکاوې او بې اعتنائي چې دتنظيمونکو پرمخ دڅپيږې پړس او نوره بې پتی يې وګاټه.

**ب ـ کيفی وړتياوی**
دغه مشاعره دتيرووکلو په پرتله يوڅه درنه او پرمحتوا وه، دعزتمندو ميلمنو دروند حضور، دپسرلی موسم شور او زوږ په ادبی چمن کی خوندور کړس د محبت په غوړونو وارويد.
آغلې حسيبه شهيد ديوې آزادې ادبی مناظرې زوږ ، ښکلا او رعنائي "دشعرملکه" دهنری ارزښت يوه مستعده ، خوځنده اود سرشارې قريحې خاونده وه.
خوږژبې اوبااستعداده ويانديې او دکلماتوره ډاکترې فريدی هوډ سيفی دخپل شعر په لورونې د رڼا څرک وځلاوه .
ويناد ښاغلی انجنيرجان اقا الکوزی په لوړ، دروند او پرتمين خوږ اواز (نه د توپ په څير) لکه د آزادی راډيو په څپوکې فصيح تيزروان اواز څښتن و، او د اجمل پسرلی سره په ګډه دنظم تسلسل يې آرامه و.
دهيواد پخوانی وتلی ويانده آغلې سهيلا حسرت نظيمي له يو لند وقفه او دم راستی، دمشاعرې ويادی په غاړه واخستله خوډيره سترې ستومانه،د پخوا په پرتله کمزورې ښکارېده، سره ددی، دپښتو ادب ګلبڼ کی دپسرلی توښه، هغوخوږومستو نظمونو د څپاند سيند اوبو شور کاوه،عاطفي احساس ورسره په صادقانه ډول يوځای وه.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

ځواکمند او بادرکه شاعر ښاغلی اسدالله زمری له خپلې درنې کورنۍ سره د قدروړ میلمانه و، چې د میلمه پال د بې تفاوتې په سبب مونشنوال یې پوروړی پاتی شول.
ښاغلی زمری نظم دپښتو ادب پانګه درنه وه.
زړور شاعر ښاغلی عمر پاخون ادبی نظم اصلاحی او انتباهی خصلت د اهمیت وړ و.
تکړه شاعر ښاغلی سیدکریم سعیدی خپل پټ احساس د شعر په ژبه بیان کړ چې د قدروړ و.
باتور، اتل او ارزښتمن استاد عبدالوهاب سرتېر د پښتو ادب بې ځښتنه خزانه په راکښونکې او خوږمن اواز کې داسې ادراکې ولولې راوپارولې چې په الهامي هر ویده پښتون راویښیده.
دلته غواړم په مشخصه توګه استاد سرتیر مخاطب کړم ! په بله ژبه :
قوه عقل: ادراک کلیات را بر عهده دارد و شامل عقل نظري و عملي مي باشد.
قوه قلب: ادراک امور الهامي و عواطف را عهده دار مي باشد.
درسازماندهی میدان ادراک (آگاهی)؛ وظیفه جناب سرتیر این بود: الهامی که فراتر از ادراک و قدرت استنباط عام قرار داشت آنرا به افغان ناآکاه برساند. (آنچه اجرای آن شرعاً یا عرفاً در عهدهٔ کسی باشد)
کشف و شهود: در این جا حرکت بزرگ مردم از پا افتاده ی افغان برای اخراج غارتگران و آدم کشان، در عمق بیش تری از روابط سنتی متوقف مانده است !!!
عملکرد ادراك شخص، سخنان مسجّع و موزون و رایجترین سبک بیانی و گفتاری ادراکات الهامی که ما از اثرهنری داریم، این الهام و **ادراك** باید آنچنان قوی باشد و آنچنان برای ما لذت یا درد پدید آورد که مجبور به نقاشی کردن آن شویم.
استاذه ! دا دچا دنده ده؟ افغان کړیدلی، لالهانده اودنیکمرغی له ښیرازی څخه بې برخې ولس ته یووالی، خپلواکي او دیموکراسي زیری ورووبخښي!!! تږوله مړه دي _ تږوله مړه دي *** که زاړه دي که واړه دي

**نارنجګل فرهنګی عنعنه:**

د نارنجګل ادبی مشاعرو کې پښتو ژبې معنوی ارزښت غوړاوه، پښتانه یې اتحاد او اتفاق ته رابلل اوله یومخ غورځیدلی اوبې حرکته اوکنګل ساتل شوی غورځنګ د سمولو او لمسون سره یې تړاو ښود.

نسیم ووې د ګل غوړ کې بدل سو د یاراني رنګ
غلی شانته انقلاب دی بدلوي د زماني رنګ

ویاړن مرحوم بینوا: دپښتنو د ویښتیا اواز، دهغه نسیم دسام انځوراوس دبمونوپه تړک کې پښتون زاوزاد په نادره توګه د یوبل رنګ ازمیښت چې دافغان رک پک (باالکل صریح و صاف) جهان هم خوارځواکه او زمولی دي.
اروانښاداستاد الفت : د استبداد په چوپه چوپتیا کې پر اسلامی ځیرکی د آزادۍ اذانونه کول .

شهرت د عقل له نامه دافلاطونه نه ځي *** د ازادی مینه هېڅکله له پښتونه نه ځي

ددغې نزاع بې سارې قانونمندی، ښوونیز او تاریخی لیرلید د پام وړ دي: « هرچه جوامع مورد هجوم کنیسه و کلیسا در عمق بیش تری از روابط سنتی متوقف مانده باشند، در ایستایی بر آن نیرومندتر عمل کرده اند و جهان موردی افسانه وار و شایسته ستایش تر از شیوه مردم افغان نمی شناسد که طی دو قرن گذشته دماغ مقتدرترین نیروهای جهانی تجاوز را بر خاک مالیده اند: ارتش ملکه انگلستان، سپاهیان شکست ناپذیر ارتش سرخ و حالا آدم کشان کارکشته در نیروی نظامی تروپ های مسلح و متحد سرمایه داری بی ترحم را، که فرماندهی کل آن ها به طور رسمی لاعلاجی در نبرد با افغان ها را پذیرفته است. آیا کدام نیرو در سرزمینی چنین فاقد امکانات این همه غیرت ایستادگی را می آفریند و دستور اجابت شونده تحمل دراز مدت ناملایمات برای دفاع از سنت ها را صادر می کند؟ اگر ملت ها در شرایط آزاد و طبیعی و سنتی خویش عملا نیرومند ترند و اگر حفظ سنت ها همه جا از مللی کوچک پدیده هایی پایدار در تاریخ زورگویی های معاصر ساخته است، پس صدور جواز تخریب سنت ها، آن هم با اعمال شگردهای کثیف، از سوی مدرنیسم، با قصد تضعیف و حذف انگیزه ی اصلی ایستادگی و در نتیجه بلع ارزان تر جهان سنت گرا صادر می شود! اگر سنت دوستی عملا قادر بوده است دیوانگان مستقر در کاخ سفید و جانیان روان پریش پنتاگون و متحدان شان را متوقف کند، آیا برای حفظ خویش موظف به تقویت سنت ها نیستیم؟ می پرسم اگر دفاع از سنت ها چنین نیرومندان نام آوری را می زاید، آیا نمی توان کار رشد و توسعه ی تدریجی و متوازن و پا برجا را هم به تحولات درونی و آرام سنت پسندان سپرد». مورخ ، پورپیرار

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ